# مولیٰ علي

## او د آخِرت فِکر

**29-March-2024**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 29 مارچ کال 2024ء د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

# مولیٰ علي او د آخِرت فِکر

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د خوږ آقا محبوب شخصيت
- ...د مولیٰ علي د قبر والؤ سره خبرې
- ... پۀ هلاکت کښې اخته کوونکي دوه څيزونه
- ... د مولیٰ علي نصيحت

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د مسلمانانو د خلورم خليفه حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم د حضرت جبرائيل علیہ السّلام نه پوښتنه وَکړه د **الله** پاک په نزد کوم يو عمل زيات محبوب دے؟ نو جبرائيل علیہ السّلام عرض وکړو: اَلصَّلَاةُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ وَحُبُّ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ يعني په تاسو صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم باندې دُرُود لوستل او د حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضی اللہ عنہ سره محبت کول (د الله پاک په نزد ډير محبوب عمل دے). (1)

اے مدینے کے تاجدار سلام
اے غریبوں کے غمگسار سلام

تیری اِک اِک اَدا پر اے پیارے
سو دُرودیں فدا ہزار سلام

میرے پیارے پہ میرے آقا پر
میری جانب سے لاکھ بار سلام

عرض کرتا ہے یہ حسنؔ تیرا
تجھ پر اے خُلد کی بہار سلام (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...القول البدیع، الباب الثانی فی ثواب صلاۃ علی رسول اللہ صلَّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم، صفحہ: 189۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ: 170، 171 ملتقطاً۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے. [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ښهٔ نیت بنده جنت ته داخلوي، د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀عِلمِ دِین به زده کووم ❀ پهٔ اَدَب به کښینم ❀ نصیحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ پاک نوم اوریدو به درودِ پاک لولم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوس چې کومې ورځې دي یعنې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د دویمې عشرې آخرې ورځې، پهٔ اِسلامي لحاظ سره دا ډیرې تاریخي ورځې دي ❀پهٔ 17 رَمَضَانُ الْمُبَارَک د حق او باطِل عظیمُ الشان جنګ یعنې **عزوهٔ بدر** شوې وه، دا دومره د عظمت والا ورځ وه چې **الله** پاک دې ته یومُ الفرقان (یعنې د حق او باطِل پهٔ مینځ کښې فرق کوونکې ورځ) ووفرمائیله. د مسلمانانو شمیره 313 وه او د غیر مُسلمو لښکر د یو زرو نه هم زیات وو، ورځې هم د رَمَضَانُ الْمُبَارَک وې، د دې باوجود صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم کمال همت اوښودو، پهٔ عزوه کښې شریک شول او د مکے کافرانو چې شپهٔ ورځ د دِین اِسلام د دنیا نه د ختمولو کوشش کولو، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ته به یې سخت تکلیفونه رَسَوَل، د هغوئې سره مال هم وو، طاقت هم وو، شمیره یې هم ډیره وه خو قربان شم! د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د ایماني جذبې پهٔ مقابله کښې نهٔ د هغوئې مال پکار راغے، نهٔ یې طاقت پکار راغے، او نهٔ یې زیاتې شمیرې څهٔ وکړے شول، پهٔ

---

[1]...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

هٔغه ورځ **اللّٰه** پاک مسلمانانو ته هٔغه عظیم الشانه فتح نصیب کړه چې د هغې سره د حق او باطِل په مینځ کښې فرق واضحه شو. [1] ❀ هم دغه شان په نورلسم رَمَضَانُ الْمُبَارَک د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګراني شهزادګۍ حضرت رُقَیَّه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا عرس مبارک وي، چې کله خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غزوۀ بدر د پاره روان شولو نو هٔغه وخت هغۀ ناروغه وه، په نورلسم رَمَضَانُ الْمُبَارَک چې کله د عزوۀ بدر د فتح زیرے مدینے ته راورسیدو نو هٔغه وخت خلقو حضرت رُقَیَّه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا خاورو ته سپارله. [2]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور وکړئ! دا څومره لویه قرباني ده...!! شهزادګۍ صاحبه ناروغه وه او د دې باوجود رسولِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِسلام د سر لوَړي د پاره بدر ته تشریف یوړلو...!!

حق کی راہ میں پتّھر کھائے خوں میں نہائے طائف میں
دِین کا کتنی محنت سے کام آپ نے اے سلطان کیا [3]

❀هم په 17 رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مسلمانانو د خوږې مور جانې، صِدّیقه بنتِ صِدّیق حضرت عائشه صِدّیقه طیبه، طاهِره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا عرس مبارک هم دے ❀سیّده عائشه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ډیره د فضیلت والا زنانه ده ❀ د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبوبه بي بي ده ❀ د حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شهزادګۍ ده ❀هغۀ ډیره لویه عالِمَه، فاضِله، مفتیه وه ❀ په تفسیر، حدیث او فقه (یعني د اِسلامي احکامو په عِلم) کښې یې ډیر مهارت لرلو ❀ په کثرت سره به یې روژې نیولې ❀ډیر

---

1...سیرت مصطفےٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ: 210تا232 ملتقطاً۔
2...بذل القوۃ، القسم الثانی، الباب الثالث، الفصل الثانی فی حوادث...الخ، صفحہ: 430۔
3...وسائلِ بخشش صفحہ: 197۔

عبادت به يـې کولو ❁ ډېره سخي هم وه ❁ د دُنيا سره به يـې رغبت نه لرلو او هميشه به د آخرت په فِکر کښې مصروفه اوسيدله ❁ هغې رضی اللہ عنہا په 17 رَمَضَانُ الْمُبَارَک د دې دُنيا نه سفر وکړو، د هغې رضی اللہ عنہا مزار مبارک په جنّتُ البقيع کښې دے.[1] ❁او په 21 رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت مولیٰ علي شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ د شهادت ورځ ده.[2]

## د مولیٰ علي رضی اللہ عنہ مختصر تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ د مسلمانانو څلورم خليفه دے ❁ هغوئي په مکه مکرمه کښې دُنيا ته تشريف راوړلو ❁ د لسو کالو عمر کښې يـې اِسلام قبول کړو[3] ❁ د هغوئي مور بي بي د هغوئي نوم **حيدر** او والد صاحب د هغوئي نوم **علي** کيښودو ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم هغوئي ته د **اَسَدُ الله** لقب عطا کړو[4] ❁ د اَسَدُ الله معنیٰ ده: د **الله** پاک ازمرے.

علی المرتضیٰ شیرِ خُدا ہیں | کہ ان سے خوش حبیبِ کبریا ہیں

❁ حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ په مهاجرينِ اَوّلين (يعني په شروع کښې هجرت کوونکے) او په عَشَرَه مُبَشَّره (يعني هغه لس خوش قِسمتو صحابهٔ کرام کومو ته چې خوږ آقا، د مدينے والا مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم د نومونو اخستو سره د جنّت زيرے ورکړے وو، په هغوئي) کښې دے ❁ په غزوهٔ بدر، غزوهٔ اُحد وغيره کښې شريک شوے وو[5] د هغوئي

---

1...سیرتِ مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہٖ وسلم، صفحہ: 657تا662ملتقطاً۔
2...کراماتِ شیر خدا، صفحہ: 13ملخصاً۔
3...کراماتِ شیر خدا، صفحہ: 12ملخصاً۔
4...مرآۃالمناجیح، جلد: 8، صفحہ: 412ملخصاً۔
5...اسدالغابہ، جلد: 4، صفحہ: 88بتغیر۔



www.dawateislami.net

بهادري او باتوري ډېره مشهوره او معروفه ده ❁ د مسلمانانو د دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ د شهادت نه پس هغوئي د خِلافت څوکۍ سمبال کړه [1] ❁ هغوئي رضی اللہ عنہ څلور کاله، اتۀ میاشتې او نهه ورځې د خِلافت ذِمه دارۍ ډېرې په ښۀ طریقه ترسره کړې [2] ❁ په 17 یا 18 رَمَضَانُ الْمُبَارَک په 40 هجرۍ کښې یو خبیث خارِجي په هغوئي حمله وکړه په کومه کښې چې هغوئي سخت زخمي شو او په 21 رَمَضَانُ الْمُبَارَک د اتوار په شپه یې د شهادت مرتبه ترلاسه کړه. [3]

د اللّٰه رَبُّ الْعِزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

اَصلِ نَسلِ صَفَا، وجہِ وَصلِ خُدا | بابِ فَضْلِ وِلایت پہ لاکھوں سلام [4]

**وضاحت:** حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رضی اللہ عنہ د پاک نسل (یعنې د سیّدانو) جدِّ اعلیٰ دے، واصِل باللّٰه (یعنې د اللّٰه پاک د مُقرَّب) جوړېدو سبب او د وِلایَت د فضیلتونو میلاویدو دروازه ده، په هغوئي رضی اللہ عنہ باندې دې په لکونو سلامونه وي.

## د مولیٰ علي رضی اللہ عنہ شان

**اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم عاشقانو!** راځئ چې د حضرت مولیٰ علي، شیرِ خُدا رضی اللہ عنہ په شان کښې ھغه حدیثونه واورو کوم چې به د مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّیقه رضی اللہ عنہا خلقو ته بیانول، داسې به د سیّده عائشه رضی اللہ عنہا ذِکرِ خیر

---

1...تاریخ الخلفاء، صفحہ:111۔

2...کراماتِ شیرِ خدا، صفحہ:13۔

3...کراماتِ شیرِ خدا، صفحہ:13۔

4...حدائقِ بخشش، صفحہ:313۔



www.dawateislami.net

هم وَشي او د حضرت مولیٰ علي، شیرِ خُدا رضی اللہ عنہ د ذِکر برکتونه به مو هم نصیب شي.

## د خوږ آقا صلی اللہ علیہ وسلم محبوب شخصیت

پهٔ ترمذي شریف کښې دي: د حضرت عائشه صِدِّیقه رضی اللہ عنہا نه پوښتنه وشوه: (پهٔ اهلِ بیتو کښې) د رسولُ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم د ټولو نه زیات محبوب (یعنې خوښ) څوک وو؟ اوئې فرمائیل: خاتونِ جنّت سیّده فاطمه رضی اللہ عنہا. پوښتنه وکړے شوه: او پهٔ نارینهٔ کښې څوک؟ اوئې فرمائیل: د هغې خاوند (یعنې حضرت مولیٰ علي، شیرِ خُدا رضی اللہ عنہ). نور یې ووفرمائیل: زما د معلوماتو مطابق د دې وجه دا ده چې حضرت علي رضی اللہ عنہ به ډیرې روژې نیولې او ډیر عبادت به یې کولو. (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ ...!! هغوئې به پهٔ کثرت سره روژې نیولې، ډیر پهٔ کثرت سره به یې عبادت کولو...!!

| | |
|---|---|
| خدا کے شیر اے مولائے کائنات علی | شرف کا گوہرِ یکتا تری حیات علی |
| تو لا جواب ہے جس رخ سے بھی تجھے دیکھا | کہ اک خزینۂ عظمت ہے تیری ذات علی |
| نہ کیوں رکھیں صدفِ دل میں یہ گُہر مومن | ہے تجھ سے عشق و وفا باعثِ نجات علی |
| نہ ہو سکے گی کما حقہ تری توصیف | خمیدہ سر ہیں زبان و قلم دوات علی |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له هم پهٔ کثرت سره د روژو نیولو او ډیر زیات وخت پهٔ عبادت کښې د تیرولو عادت جوړول پکار دي، نن سبا خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عبادتونو د سپرلي موسم دے ❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د برکتونو والا ورځې دي ❁ شپهٔ ورځ رحمتونه راوریږي ❁ د بخښنې پرواني [یعني چټې] تقسیمیږي ❁ پهٔ دې میاشت کښې

---

1...ترمذی، ابواب المناقب، باب فضل فاطمۃ، صفحہ: 872، حدیث: 3877۔



www.dawateislami.net

روزانه د روژه ماتي پهٔ وخت لکونه خلق بخښلے کیږي ❀ د عبادتونو شوق زیاتیدونکې ورځې دي بلکې آخري عشره شروع کیدونکې ده، دا هغه مبارکه عشره ده چې سیّده عائشه صِدِّیقه رضی اللہ عنہا فرمائي: **چې کله به د رَمَضَانُ الْمُبَارَک آخری عشره راغله نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار** صلی اللہ علیہ والہ وسلم **به عبادت ته ملا کلکه وتړله.** (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! څومره ښکلے شان دے...!! ❀ زمونږه نبي، خوږ نبي، مکي مَدَني صلی اللہ علیہ والہ وسلم خو هُغه هستي ده چې د هغوئي د یوې لحظې کروړمه حصه هم چرې پهٔ فضولیاتو کښې نه ده تیره شوې ❀ بلکې هغوئي خو هُغه هستي ده چې د هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم اداګاني دِین دے ❀ د هغوئي طریقې اختیارول عبادت دے ❀ بلکې یو عاشقِ رسول وائي:

تیری گلی میں آنا، تجھے تکنا، تیری ہی باتیں کرنا

عبادت، ریاضت، اَہلِ دِل اس کو کہتے ہیں

چې آقا کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم به د دومره اوچت شان لرلو باوجود هم د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پهٔ آخری عشره کښې عبادت زیاتولو نو غور وکړئ چې څومره پهٔ کثرت سره به یې عبادت کولو...!! ځکه مونږه غلامانو له هم پکار دي چې ❀ پهٔ عبادت کښې زړهٔ اولګوو ❀ د ښهٔ ډیر شوق او ذوق سره، د ظاهري باطني ادابو د خیال ساتلو سره روژې اونیسو ❀ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې خو فرض دي، ضرور نیول دي، دا خو نشي پریښودے ❀ د دې نه پس هم د نفلي روژو نیولو عادت جوړ کړو ❀ او عبادت هم پهٔ کثرت سره وکړو ❀ ښهٔ ډیر تلاوت وکړو ❀ نفلونه وکړو ❀ تهجد کول نن سبا ډیر اسان دي، د پیشمنې د پاره خو هسې هم پاڅیدل دي نو پکار ده چې تهجد هم وکړو ❀ د پیشمنې پهٔ وخت د توبې، اِستغفار ډیر فضیلتونه دي، چې دا هم وکړو ❀ چې پینځهٔ وخته نمونځونه

1...بخاری، کتاب فضل لیلۃ القدر، باب العمل فی العشر الاواخر من رمضان، صفحہ:529، حدیث:2024۔



www.dawateislami.net

پۀ جومات کښې د جَمعې سره ادا کړو ❁ د اشراق څاښت او اَوَّابینو د نفلونو کولو عادت هم جوړ کړو ❁ تراویح پوره شل رکعتونه ادا کړو ❁ د درودِ پاک ډیر کثرت وکړو ❁ پۀ ګرځیدو، پۀ کښیناستو پاځیدو کښې د **الله** پاک ذِکر جاري وساتو ❁ ژبه د فضولیاتو نه بچ وساتو او د **الله** پاک ذِکر پرې وکړو ❁ زړۀ او دماغ د **الله** پاک پۀ یاد کښې مشغول کړو نو اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## عائشه! د دوئي عزّت کوه!

حضرت مَعَاذَه غَفَارِیّه رضی اللہ عنہا فرمائي: یوه ورځ زۀ د حضرت عائشه صِدِّیقه رضی اللہ عنہا سره د ملاقات د پاره لاړم، ما وکتل چې حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ د هغوئي د کور نه بهر راووتلو او پۀ خپله لاره یې تشریف یوړلو، زۀ چې کور ته دننه لاړم نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم هم پۀ کور کښې وو، هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم سیّده عائشه رضی اللہ عنہا ته فرمائیل: اے عائشه! دا (یعني عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضی اللہ عنہ) پۀ ټولو نارینۀ کښې ما ته ډیر ګران او عزیز دے، اے عائشه! زما د رضا د پاره د دۀ حق اوپیژنه! او د دۀ عزّت کوه...!! [1]

## هغه خو تقدیر وو...!!

حضرت مُجَمَّع رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زما یو ځل د حضرت عائشه صِدِّیقه رضی اللہ عنہا پۀ خدمت کښې حاضري نصیب شوه، ما د هغې نه د واقعۀ جُمُل (یعني هُغه واقعه چې پکښې د

[1]...اسد الغابہ، جلد:7، صفحہ:259۔



www.dawateislami.net

حضرت عائشه او مولیٰ علي رضی اللہ عنہما اِختلاف پیدا شوے وو، د هغې) پهٔ باره کښې پوښتنه وکړه نو اوئې فرمائيل: كَانَتْ قَدْرًا مِنَ اللهِ یعنې هغه د الله پاک لیکلے شوے تقدیر وو. بیا یې ووفرمائيل: سیّده فاطمه او د هغې خاوند (یعنې مولیٰ علي رضی اللہ عنہ) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ته د ټولو نه زیات محبوب وو.[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ ...!! هسې خو د ټولو نه افضل صحابي ورومبے خلیفه حضرت ابوبکر صِدّيق رضی اللہ عنہ دے خو پهٔ اهلِ بیتِ اطهار کښې د خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د ټولو نه محبوب او خوښ حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ وو. د الله رَبُّ الْعِزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.

## مولیٰ علي رضی اللہ عنہ او د آخِرت فِکر

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت مولیٰ علي، شيرِ خُدا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضی اللہ عنہ پهٔ عِلم او عمل کښې ډېره اوچته مرتبه لري، پهٔ عِلم کښې داسې کمال لري چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائي: اَنَا مَدِيْنَةُ الْعِلْمِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا یعنې زهٔ د عِلم ښار یم او علي د دې دروازه ده.[2]

سبیلِ عشق کی سب رونقیں، علی سے ہیں | طریقِ رشد کی سب مشعلیں، علی سے ہیں
درِ علومِ نبوت ہے، ذات مولیٰ کی | تمام علم کی یہ مسندیں، علی سے ہیں

هم دغه شان پهٔ سیرت کښې پهٔ کردار کښې هم د حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ

---

1...ریاض النضرۃ، الباب الرابع فی مناقب...الخ، الفصل الفصل السادس...الخ، جز:3، صفحہ:100۔
2...مستدرک، کتاب معرفۃ الصحابہ، جلد:4، صفحہ:96، حدیث:4693۔



www.dawateislami.net

ځانګړے شان دے، بے شمیره خوبیانې، بے شمیره ښۀ صفتونه د هغوئي د پاک سیرت نه د زدکړې د پاره میلاویږي. د حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ یوه ډیره اهمه خوبي، کومه چې هغوئي خپله کړې وه او د دې تعلیم به یـې هم ورکولو، **هغه ده: د آخرت فِکر.**

حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ به د آخرت ډیر فِکر لرلو ❁ د قبر او آخرت د راپادولو د پاره هدیرې ته تلل ❁ د آخرت په فِکر کښې ژړل او ژړول ❁ هر وخت د آخرت د کامیابۍ د پاره فِکر مند اوسیدل ❁ د هغې د پاره دعاګانې کول ❁ د آخرت په فِکر کښې ډوبیدل او عبادت کول ❁ توله توله شپه ویښه تیرول ❁ د دُنیا نه لرې وَتل ❁ د دُنیا د محبت نه ډیر بچ کیدل ❁ او د درس او د بیان په ذریعه او په خطبو کښې خلق د آخرت د تیارۍ د پاره راپارول د حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ د سیرت یو ښکاره اړخ دے ❁ بلکې شیخ جنید بغدادي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: شَیۡخُنَا فِی الۡاُصُولِ وَ الۡبَلَآءِ علی المرتضیٰ یعنې د طریقت په لاره او د بَلا او مصیبت (یعنې د آخرت د بهترۍ د پاره په دُنیا کښې د مشکلاتو برداشت کولو په معامله) کښې حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ زمونږه امام دے. [(1)]

| | |
|---|---|
| ہو چشتی قادری یا نقشبندی سہروردی ہو | مِلا سب کو ولایت کا انہی کے ہاتھ سے ٹکڑا |
| علی مشکل کشا ہیں سب کے سالک کا سہارا ہیں | ہر اِک محتاج ان کا ہو جواں بوڑھا ہو یا بچہ [(2)] |

## د مولیٰ علي رضی اللہ عنہ یو معمول

حضرت ضرّار رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زۀ **الله** پاک ګواه جوړووم او وایم چې ما ډیر ځل حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ اولیدو چې هغوئي به د شپې په تیارۀ کښې په خپل محراب

---

1...كَشْفُ الْمَحْجُوب، باب السابع فی ذکر ائمتہم من الصحابۃ، صفحہ:87۔
2...دیوان سالک، صفحہ:82۔



www.dawateislami.net

کښېږ د ډېرې وېرې پۀ حالت کښې ناست وو، ګيره مبارکه به يـې نيولې وه او دومره ناقلاره به وو لکه زهريله مار چې خوړلے وي، هغوئي به ډېر ژړل او بے اختياره به يـې وئيل: **اے زما رَبَّ! اے زما رَبَّ...!!** بيا به دُنيا ته مخاطب شولو او فرمائيل به يـې: اے دُنيا تۀ ما پۀ دهوکه کښې د اخته کولو د پاره راغلې يـې؟ زما د پاره ښۀ پۀ ډَوَل او سينګار سره راغلې يـې؟ لرې شه! بَل څوک دهوکه کړه، ما تا له درې طلاقه درکړي دي، ستا عُمر کم دے او ستا مصيبتونه برداشت کول اسان دي. بيا به يـې پۀ ارمان سره وئيل: **افسوس! افسوس! د سفر سامان مې لږ دے، سفر ډېر اوږد دے او لاره د وحشت نه ډکه ده.** (1)

پیکرِ خوفِ خدا اے عاشقِ خیرُ الوریٰ | تم سے راضی کبریا مولیٰ علی مشکل کشا!

اَللّٰهُ اَکْبَرَا! **خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** دا دے حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ ...!!

❀دا دے هغه چې ځامن يـې د جنّتي ځلمو سرداران دي ❀ دا دے هغه چې کټل ورته عبادت دے ❀ دا دے هغه چې پۀ نوم اخستو يـې د دُنيا او آخرت مشکلات لرې کيږي ❀ دا دے هغه چې پۀ وسيله به يـې پۀ لکونو خلق جنّت ته ځي ❀ دا دے هغه چې محبّت يـې د اِيمان نخښه ګرځولے شوې ده ❀ دا دے هغه چې پۀ شان کښې يـې د قرآن آيتونه نازل شوي دي ❀ دا دے هغه چې رسولِ ذيشان صلی اللہ علیہ والہ وسلم به ورته خپل وررور وئيلو ❀دا دے هغه چې مالکِ جنّت، قاسمِ نعمت صلی اللہ علیہ والہ وسلم ورته يو ځل نۀ بلکې څو څو ځله د جنّت زيرے ورکړے دے بلکې دا هغه دے د چا محبت چې جنّت ته د تللو سبب جوړيږي خو انداز ته يـې وګورئ! د **الله** پاک نه وېرې ته يـې وګورئ! د آخرت فِکر ته يـې وګورئ! د شپې پۀ تنهايۍ کښې به د **رَبّ تعالیٰ** پۀ حُضُور کښې کښيناستو او بدن مبارک به يـې په لړزان وو، ژړل به يـې، اوښکې به يـې توئيولې، دُنيا

---

1...حلیۃ الاولیاء، جلد:1، صفحہ:126، رقم:261 مخلصاً۔



www.dawateislami.net

به يـې رَټله او د آخرت پهٔ فِکر کښې به مصروف اوسيدو.

**خو افسوس!** زمونږه حال بے حاله دے ❀ نيکي راسره د سَره نشته ❀ اعمال نامه مو د ګناهونو نه ډکه ده ❀ نهٔ مو ظاهر ښهٔ دے ❀ نهٔ مو باطن پاک دے، د دې باوجود راسره هيڅ فِکر نشته...!! ❀ بس شپهٔ ورځ د مال، مال او مال ګټلو پهٔ فِکر کښې يو ❀ د مال حرص کوو، هَوَس کوو ❀ څهٔ خوړل دي؟ ❀ څهٔ اغوستل دي؟ ❀ مستقبل به مو څهٔ وي؟ يو کاروبار خو مو روان شوے دے، بَل به څنګه روانيږي؟ ❀ د يو ځائے نه خو ښهٔ امدن راځي، د امدن نورې ذريعې به څنګه پرانستے شي؟ ❀ ګاډے، محل، بنګله به راته څنګه ميلاويږي؟ بس هم دغه د شپې ورځې فِکرونه دي، نهٔ د توبې اوښکې، نهٔ څهٔ شرم، نهٔ څهٔ پښيمانتيا، نهٔ راسره څهٔ فِکر شته، بس شپه ورځ پهٔ غفلت کښې تيريږي...!!

دِل سے مرے دُنیا کی محبّت نہیں جاتی | سرکار! گنَاہوں کی بھی عادَت نہیں جاتی
دِن رات مسلسل ہے گنَاہوں کا تسلسل | کچھ تم ہی کرو نا یہ نحوست نہیں جاتی
گو پیشِ نظر قبر کا پُرھول گڑھا ہے | افسوس! مگر پھر بھی یہ غفلت نہیں جاتی(1)

## آخرت غوښتونکي جوړ شئ...!!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** کاش چې زمونږه د آخرت فِکر نصيب شي. يقين وکړئ چې دُنيا بے وفا ده. د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ ووفرمائيل: خلقو! آخرت راروان دے، دُنيا روانه ده. پهٔ دې کښې د هر يو طلب لرونکي دي. تاسو د آخرت طلب لرونکي جوړ شئ! د دُنيا طلب کوونکي

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ 382 ملتقطاً۔



www.dawateislami.net

مۀ جوړیږئ...!! بے شکه نن د عمل ورځ ده، نن حِساب نشته خو سبا به د حِساب ورځ وي، هلته عمل نشته. [1]

| | |
|---|---|
| حِرصِ دُنیا نکال دے دِل سے | بس رہوں طالِبِ رِضا یارَبّ! |
| ہائے حُسنِ عَمَل نہیں پلّے | حشر میں میرا ہو گا کیا یارَبّ! |
| خوف دوزخ کا آہ ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ! |
| دِل کا اُجڑا چمن ہو پھر آباد | کوئی ایسی ہَوَا چلا یارَبّ! [2] |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا حقیقت دے، ښکاره حقیت دے، دُنیا روانه ده او آخرت راروان دے. وخت نشي اودریدے، زمونږه ساګانې مونږه مسلسل مرګ ته نزدې کوي، آه! زر...!! زر او ډیر زر به مَلَكُ المَوت (د مرګ فرښته) حضرت عزرائیل عَلَیْهِ السَّلَام تشریف راوړي، ساه به مو اونښلي، بدن به مو پۀ لړزان وي، آخري سلګئ به راشي او رُوح به مو د تَن نه جُدا شي، بیا به دا دُنیا د یو نیمګړي خوب پۀ شان پاتې شي، د دې ځائے پیسه، د دې ځائے دولت، د دې ځائے ارام، د دې ځائے تمغې، د دې ځائے منصب، د دې ځائے عزّت، نوم، شهرت هر څۀ به پاتې شي او مونږ به خالي لاسونه قبر ته کوز شو.

| | |
|---|---|
| دِلا غافِل نہ ہو یک دَم یہ دنیا چھوڑ جانا ہے | بغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے |
| تِرا نازُک بدن بھائی جو لیٹے سَیج پھولوں پر | یہ ہوگا ایک دن بے جاں اِسے کیڑوں نے کھانا ہے |
| عَزیزا یاد کر جس دن کہ عِزرائیل آئیں گے | نہ جاوے کوئی تیرے سَنگ اَکیلا تُو نے جانا ہے |
| غُلامؔ اِک دَم نہ کر غفلت حیاتی پہ نہ ہو غَرّہ | خدا کی یاد کر ہر دم کہ جس نے کام آنا ہے |

1...بخاری، کتاب الرقاق، باب فی الامل وطولہ، صفحہ: 1581۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ 80-81 ملتقطاً بتقدم وتاخر۔



www.dawateislami.net

## د تولو نه لوئي ارمان

حضرت عبدُ الرحمان مُرّي رحمۃُاللہِعلیہ فرمائي: د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضیاللہعنہ يوه ورځ ووفرمائيل: (اے خلقو!) آيا زهٔ تاسو ته د ټولو نه لوئي ارمان پهٔ باره کښې اونه وايم. دا د هغه کَس ارمان دے چې درهمې قيراط (يعنې صرف مال) يې جمع کولو، جمع کولو، **بيا هغهٔ له مرګ راغے او د هغهٔ ټول مال نورو ته پهٔ وراثت کښې پاتې شو.** [(1)]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** واقعي چې دا ډيره د ارمان خبره ده، مال خو يې جمع کړو خو د خپل مال نه يې فائده حاصله نکړه، ټول مال د نورو قبضې ته لاړو، بيا څهٔ کيږي، وارثان يې پهٔ مال باندې مزې کوي او مال جمع کوونکے د زمکې د لاندې پهٔ عذاب کښې راګير وي يا پښيمانه وي.

## د مولیٰ علي د قبر والؤ سره خبرې

حضرت سعيد بن مُسَيَّب رحمۃُاللہِعلیہ فرمائي: مونږ د حضرت شيرِ خُدا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضیاللہعنہ سره پهٔ هديره راتيريدلو، هغوئي رضیاللہعنہ اِرشاد ووفرمائيلو: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ وَرَحْمَةُ اللهِ يعنې اے قبر والؤ! پهٔ تاسو دې سلامتي او د **الله** پاک رحمت وي. او ويې فرمائيل: تاسو به خپل حال ووايئ کهٔ مونږه تاسو ته ووايو؟ حضرت سعيد بن مُسيَّب رحمۃُاللہِعلیہ فرمائي چې مونږ د يو قبر نه د وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ اواز واوريدو او چا وئيل: اے اَميرَ الْمُؤمِنِين! تاسو مو خبر کړئ چې زمونږه د مرګ نه پس څهٔ وشول؟ حضرت مولیٰ علي رضیاللہعنہ ووفرمائيل: واورئ! ❀ ستاسو مال تقسيم شو ❀ ستاسو ښځو بَله نکاح وکړه ❀ ستاسو اولاد پهٔ يتيمانانو کښې شامل شو ❀ کوم کور چې تاسو

---

1...زہدلابن مبارک، ابواب زیادات الزہد...الخ، باب فی ذکرالموت، صفحہ:465، رقم:155

ډیر مضبوط جوړ کړے وو په هغې کښې ستاسو دښمنان اباد شول. اوس تاسو خپل حال
ووایئ! دا یـې چې واوریدل نو د یو قبر نه اواز راغـے: اے اَمِیرَ المُؤمِنِین! ❁ زمونږه
کفنونه وشلیدل او ټوټې ټوټې شول ❁ زمونږه ویښته ورژیدل ❁ زمونږه څرمنې ټوټې
ټوټې شوې ❁ زمونږه سترګې په مخونو باندې راوبهیدلې ❁ زمونږ د سپیږمو نه نوونه
بهیږي ❁ مونږ چې څهٔ مخکښې لیږلي وو (یعني چې څنګه عمل مو کړے وو) هغهٔ مو
بیاموندو ❁ چې څهٔ مو وروستو پریښودل په هغې کښې مو نقصان وشو. (1)

| | |
|---|---|
| آخِرت کی فکر کرنی ہے ضَرور | زندَگی اِک دن گزرنی ہے ضَرور |
| قبر میں میِّت اُترنی ہے ضَرور | جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضَرور |
| ایک دن مرنا ہے آخِر موت ہے | کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** په دې حکایت کښې د حضرت مولیٰ مُشکل کُشا،
عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی، شیرِ خُدا رضی اللہ عنہ د رِفعت او عظمت او د اوریدو د طاقت یوه نظاره
ښکاره شوه چې هغوئي رضی اللہ عنہ د مَړو نه د هغوئي د برزخ د حالاتو پوښتنه وکړه،
جوابونه یـې واوریدل او هغوئي ته یـې د دُنیا حالات ارشاد ووفرمائیل، یقیناً دا د هغوئي
عظیم الشان کرامت دے. په دې روایت کښې زمونږ د پاره د عِبرت خبرې هم دي چې
څوک په هُم دې دُنیا کښې خپلې عقیدې او اعمال نهٔ ښهٔ کوي، د دنیائي خواهشونو په
جال کښې انښلي او د آخرت نه غافله پاتې کیږي د هغهٔ قبر به د هغهٔ د پاره د سختو کور
جوړیږي او د دې دُنیا دا بے ځایه فِکرونه او خواهشونه به د هغهٔ هیڅ پکار رانشي
بلکې صِرف د دُنیا د مال راجمع کولو په فِکر کښې اوسیدونکے او بیا هم په دغه
حالت کښې مړ کیدونکے او قبر ته کوزیدونکے به د خپل دنیائي مال نه هیڅ فائده

1...تاریخِ دمشق، جلد:27، صفحہ:395



www.dawateislami.net

حاصله نکړي، کور والا او وارثان به د هغهٔ مال قبضه کړي بلکې د مال حاصلولو د پاره به جګړې کوي او خپله خپله لار به نیسي او دا نادانه انسان د مال جمع کولو پهٔ نشه کښې مست اوسیدونکے او د حلالو او حرامو د تمیز هیروونکے به د ګناهونو نه د ډک ژوند تیرولو پهٔ وجه د وور د عذاب حقدار ګرځي.

دولتِ دُنیا کے پیچھے تُو نہ جا | آخرت میں مال کا ہے کام کیا؟
مالِ دُنیا دوجہاں میں ہے وبال | کام آئے گا نہ پیشِ ذُوالجلال

## هلاکت کښې اخته کوونکي دوه څیزونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا دُنیا د دهوکې کور دے، ډیر زر به فنا شي، مونږه د دې خبرې نه خبر یو خو افسوس چې مونږه فِکر نه کوو. حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ مونږ ته نصیحت کوي او فرمائي چې زهٔ ستاسو پهٔ باره کښې د دوو خبرو ویره لرم: **(1)**:اوږدهٔ اُمّیدونه (یعني تر ډیرې مودې پورې د ژوندي پاتې کیدو طمع) **(2)**:پهٔ خواهشونو پسې تلل. **بے شکه اوږد اُمید د آخرت هیریدو سبب دے او پهٔ خواهشونو پسې تلل انسان د حق لارې نه بے لارې کوي.** [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دغه دوه غټې بیمارۍ دي کومې چې نن مونږه دهوکه کوي، مونږه ګڼو چې اوس لا ډیر ژوند پاتې دے، زهٔ خو به دومره موده ژوندے اوسم بلکې رښتیا خبره دا ده چې د مرګ خیال هم زمونږ پهٔ ذهن کښې نه راځي، که د چا د مرګ خبر راشي نو مونږه پهٔ زړهٔ کښې ځان له د دروغو تسلي ورکوو، مثلاً ❁ د هغهٔ د زړهٔ بیماري وه، د هغهٔ کینسر وو، ځکه مړ شو ❁ فلانکي به ګاډے صحیح نه چلولو، ځکه

1...الزہد لابن مبارک، باب النہی عن طول الامل، صفحہ:110، رقم:255



www.dawateislami.net

پهٔ ایکسیډنټ کښې مړ شو ❀ فلانکي به احتیاط نه کولو، ځکه بجلی ونیوو او مړ شو، داسې مونږه خپل ځان له د دروغو تسلي ورکوو او ځان مطمئین کوو حالانکې ربښتیا خبره دا ده چې دلته ځوک راغے، هغه به ضرور ځي یعني خامخا به مړ کیږي. **اللّٰه** پاک فرمائي:

كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِؕ (پاره:17، الانبیا:35)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هر نفس د مرګ خوند څکونکے دے.

دا مرګ دے، دا به هر چا له راځي، د مرګ تعلق نهٔ د صحت سره دے، نهٔ پهٔ احتیاط سره د ګاډي چلولو سره دے، مرګ نهٔ د بیمارئ په وجه راځي، نهٔ د ایکسیډنټ په وجه راځي، دا خو ظاهري اَسباب دي ګني مرګ خو د بدن نه د رُوح د وَتلو نوم دے او رُوح د **اللّٰه** پاک پهٔ حکم سره ووځي، مَلَکُ الموت (یعني حضرت عزرائیل عَلَیْهِ السَّلَام) یې اوباسي، ❀ څومره ځلمي وو چې د بوډا توب پهٔ انتظار وو خو نن پهٔ قبر کښې دي ❀ څومره صحت مند دي چې صحت هغوئي پهٔ دهوکه کښې اچولي وو، نن د هغوئي بدنونه پهٔ قبرونو کښې وراسته شوي [او خاورې شوي] دي، ❀ څومره داسې دي چې پهٔ خپل طاقت باندې به یې غرور کولو، نن د قبر خاورې د هغوئي تول تکبر د ځان سره خاورې کړے دے، د کله نه چې دُنیا جوړه شوې ده، پهٔ اربونو، کهربونو خلق دُنیا ته راغلل او لاړل، نهٔ مخکښې دلته څوک بچ پاتې شوي دي، نهٔ به مونږه بچ پاتې شو. **اللّٰه** پاک فرمائي:

اَلَمْ یَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ اَنَّهُمْ اِلَیْهِمْ لَا یَرْجِعُوْنَ ﴿۳۱﴾ (پاره:23، یٰسٓ:31)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: آیا هغوئي اُونه لیدل چې مونږه د هغوئي نه مخکښې څومره قومونه هلاک کړل چې هغوئي اوس د دوئي طرف ته راګرځیدونکي نه دي.

*_*_*_*_*

بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتبار | تُو اچانک موت کا ہوگا شکار



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| موت آکر ہی رہے گی یاد رکھ! | جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ! |
| گر جہاں میں سو برس تُو جی بھی لے | قبر میں تنہا قِیامت تک رہے |
| موت آئی پہلواں بھی چل دیئے | خوبصورت نوجواں بھی چل دیئے |
| دنیا میں رہ جائے گا یہ دبدبہ | زور تیرا خاک میں مل جائے گا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مولیٰ علي رضی اللہ عنہ نصیحت

حضرت بایزید بِسطامي رحمۃ اللہ علیہ ډیر لوئي وَلِيُّ الله دے، یو ځل د هغوئي بخت رابیدار شو او هغوئي له پهٔ خوب کښې د مسلمانانو څلورم خلیفه، مولیٰ علي مشکل کُشا رضی اللہ عنہ تشریف راوړلو، حضرت بایزید بِسطامي رحمۃ اللہ علیہ پهٔ اَدب سره عرض وکړو: اے اَمِيرَ الْمُؤمِنِين رضی اللہ عنہ! ما ته فائده منده خبره وښايئ! هغوئي ورته یو څو نصیحتونه وکړل، بیا یې ووفرمائیل: د ټولو نه بهترین نصیحت دا دے، د دې وئیلو سره یې خپل موټے برسیره کړو، پهٔ هغې باندې د سرو زرو پهٔ اوبو دا شعرونه لیکلے شوي وو:

| | |
|---|---|
| كُنْتَ مَيِّتًا فَصِرْتَ حَيًّا | وَعَنْ قَلِيلٍ تَكُونُ مَيِّتًا |
| فَابْنِ بِدَارِ الْبَقَاءِ بَيْتًا | وَأَهْدِم بِدَارِ الْفَنَاءِ بَيْتًا |

**ترجمه:** تهٔ مخکښې هیڅ نه وې، بیا ژوندے شوې، زر به بیا مړ شې، پس پهٔ باقي پاتې کیدونکي جهان (یعني آخرت) کښې خپل کور جوړ کړه! د دارِ فنا (یعني د دُنیا) کور راوغورځوه!. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! دا یو ښکلے نصیحت دے، د دې مطلب دا هیڅکله

[1]...تاریخِ دمشق، جلد:14، صفحہ:105۔



www.dawateislami.net

نه دے چې مونږ خپل کور راوغورځوو او د پولۍ پرق ته کښېنو، آؤ! دا مطلب ضرور دے چې د دې دُنيا په کور کښې زړۀ اونه لګوو بلکې د آخرت فِکر وکړو.

## د بخښنې په لور منډې کړئ!

حضرت عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضی اللہ عنہ يو ځل په خطبه کښې ووفرمائيل: اے د **الله** پاک بندګانو! مرګ! مرګ! چې خوک ترې بچ کيدونکے نه دے. که تاسو د دې نه د تښتيدو کوشش کوئ نو دا به تاسو تيښتې ته نه پريږدي او تاسو به را اونيسي. دې مرګ تاسو د تندي نه نيولي يئ. اوس نجات صرف په زر عمل کولو کښې دے. په تاسو پسې شاته يو تادي کوونکے طالب دے او هغۀ قبر دے. واورئ! قبر د جنّت د باغونو نه يو باغ يا د دوزخ د کندو نه يوه کنده ده. واورئ! دا قبر هره ورځ درې ځله خبرې کوي او وائي: **زۀ د تيارې کور يم، زۀ د وحشت کور يم او زۀ د حشراتو [مارانو او لړمانو] کور يم.** واورئ! د دې قبر نه پس يوه داسې ورځ ده د کومې نه چې بَله سخته ورځ نشته. په هٰغه ورځ به ماشومان بوډاګان شي او مشران به په هوش کښې نه وي.

تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّاۤ اَرْضَعَتْ وَ تَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَ تَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَ مَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَ لٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِیْدٌ ﴿۲﴾ (پاره:17، الحج:2)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هرې پئ ورکوونکې نه به خپل د پئيو خوړلو والا ماشوم هير شي او هره حمل والا به خپل حمل اوغورزوي او ته به خلق وِينې لکه په نشه کښې چې دي حالانکه هغوئي به نشه کښې نه وي خو دا ده چې د **الله** عذاب ډير سخت دے.

واورئ! د دې نه پس داسې ورځ (يعني قيامت) دے د کومې نه چې بَله سخته ورځ نشته. په هٰغه ورځ به دوزخ سختې لمبې وهي، د هغې ګرمي به سخته وي او د هغې ژور



www.dawateislami.net

والے به ډیر زیات وي. د هغه دوزخ کالے د اوسپنې ګرز او د هغې اوبه وینې او زغوې دي، په هغې کښې د الله پاک د رحمت هیڅ حصه نشته. دا یې چې واوریدل نو خلقو ډیر وژړل بیا هغوئي رضی اللہ عنہ ارشاد ووفرمائیلو: د هغې نه پس هم یوه ورځ ده. (د کومې په باره کښې چې الله پاک فرمائیلي دي:)

وَسَارِعُوْۤا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُۙ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِیْنَۙ(۱۳۳) (پارہ:4، اٰل عمران:133)

[مفھوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د هغه جَنَّت طرف ته منډې کړئ چې د هغې فراخي د آسمانونو او زمکې برابره ده. هغه د پرهیزګارو د پاره تیار کړے شوے دے.

الله پاک دې مونږه جنّت ته بوځي او د دردناک عذاب نه مو دې بچ کړي. (1)

## باقي ژوند بے بها دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا صحیح خبره ده، مونږ ته حکم شوے دے چې د جنّت په لور منډې کړئ، په دې کښې بالکل مهٔ ناوخته کوئ، بس چې هم د نن نه مونږ خپل دا پوخ ذهن جوړ کړو، مخکښې چې کوم ژوند تیر شوے دے، هغه تیر شوے دے، پاتې ژوند به مونږ نیکئ کوو، مخکښې چې کوم ګناهونه شوي دي، د هغې نه به په رښتوني زړهٔ توبه کړو، بیا د پاره به چرې هم ګناهونو ته نهٔ نزدې کیږو او بس د آخرت په فِکر کښې به مصروف شو. د حضرت مولیٰ علي رضی اللہ عنہ ډیر ښکلے ارشاد دے، هغوئي ووفرمائیل: بَقِيَّةُ عُمْرِ الرَّجُلِ لَا ثَمَنَ لَهُ یعني د انسان چې کوم ژوند پاتې دے، هغهٔ بے بها دے. (2)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ لا ژوندي یو، دا ژوند غنیمت وګڼئ، اوس لا د توبې دروازه برسیره

1...تنبیه الغافلین، باب عذاب القبر، صفحه:20۔
2...الزهد الکبیر للبیهقی، صفحه:295، رقم:779۔



www.dawateislami.net

ده، د دې نه فائده واخلئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک برکتي ورځې دي، آخری عشره تشریف راوړونکې ده، د بخښنې او د مغفرت د پروانو تقسیمیدو ورځې دي، د دې نه فائده واخلئ، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک باقي پاتې ورځې او بیا ټول ژوند په نیکو کارونو کښې د تیرولو پوخ ربښتونے نیت وکړئ، اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره رساله مطالعه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي په ټوله دنیا کښې د نیکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د نیک نـمونځ ګزاره جوړیدو د پاره، د ظاهري او باطني ګناهونو نه د ځان بچ ساتلو د پاره، د آخرت د فِکر موندلو او د اللّٰه او رَسول په محبت د زړۀ ابادولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې هم ښۀ پوره برخه اخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دنیا او آخرت بے شمیره خیرونه درنصیب شي. د ذیلي حلقې په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **هفته واره رساله مطالعه** هم ده. **په حدیثِ پاک کښې دي:** اَلعِلمُ بِالتَّعَلُّمِ [یعنې] عِلم په زده کولو حاصلیږي. [1] ❁ د اوسني وخت په بدو کښې یوه بدي دا هم ده چې خلق د عِلمِ دِین نه لرې وځي ❁ د دِیني کتابونو د لوستلو شوق د نشت برابر دے ❁ مخکښینو خلقو به دِیني کتابونه ډیر خوښول ❁ شپۀ او ورځ به یې کتابونه لوستل ❁ لهٰذا د هغوئي سره دیني معلومات هم ډیر وو او ❁ ژوند به یې هم پاک وو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د باني شیخِ طریقت امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه خاصیت

1...بخاری، صفحہ:90،حدیث:67۔

دا دے چي هغوئي پخپله هم د عِلم دِين سره ډير شوق لري او عاشقانِ رسول ته هم د دِيني كتابونو د لوستلو د شوق ترغيب وركوي ❀ هغوئي د هر خالي پهٔ ورځ د يوې ديني رسالې د لوستلو فرمائي ❀ مختصره شان رساله وي ❀ پهٔ يو څو منټو كښې لوستلے كيږي.

تاسو يې هم لولئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډيره فائده به مو كيږي ❀ديني معلومات به مو زياتيږي ❀ د عِلمِ دِين د زده كولو ثواب به ميلاويږي ❀ديني كتاب لوستلو سره دماغو ته فائده رسي ❀نظر تيزيږي ❀ حكمت نصيب كيږي ❀سوچ پاكيږي او ❀پهٔ ژوند كښې رڼا راځي ❀ د جديد سائنسي تحقيقاتو مطابق د كتاب لوستلو سره د دماغي بيمارو نه حفاظت كيږي.

هره هفته پهٔ پابندۍ سره د **هفته وارې رسالې** د لوستلو نِيّت وكړئ! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **هفته واره رساله** لوستونكو ته مختلفې دُعاګانې هم كوي، مونږ چي **هفته واره رساله** اولولو نو څهٔ پته چي د **الله** پاک د نيک بنده، ولئ كامِل د خُلې نه وَتې دُعا زمونږ پهٔ حق كښې هُم قبوله شي او دُنيا او آخرت مو ښهٔ شي.

## غير مسلمه مسلمان شو

د هندوستان د يو اسلامي ورور څهٔ داسې بيان دے چي زهٔ د كفر پهٔ تِيارو كښې ورَک ووم، يوه ورځ راله چا د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **احترامِ مسلم** پهٔ تحفه كښې راكړه. ما چي اولوستله نو حيران پاتې شوم چي كومو مسلمانانو ته به ما هميشه د نفرت پهٔ نظر كتل د هغوئي مذهب **اسلام** دومره د امن پيغام وركوي! د رسالې د ليک اثر لكه د غشي زما پهٔ زړهٔ ولګيدو او پهٔ زړهٔ كښې مې اسلام كور وكړو. يوه ورځ ما پهٔ بس كښې سفر كولو چي د يو څو ګيرو والا او عمامو والا اسلامي ورونو قافله هم بس ته را اوختله، ما ته پته

ولګیده چې دا مسلمانان دي، زما پهٔ زړهٔ کښې د اسلام محبت پیدا شوے وو ځکه ورته ما پهٔ درنه سترګه کتل، پهٔ دې کښې یو اسلامي ورور د نبئ مکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پهٔ شان کښې نعت شریف شروع کړو، زما د هغهٔ انداز ډیر خوښ شو، زما پهٔ شوق سره اوریدو ته چې یــې وکتل نو پهٔ هغوئي کښې یو ګس زما سره خبرې شروع کړې. هغهٔ ته پته ولګیده چې زهٔ مسلمان نه یم، هغهٔ پهٔ مسکا مسکا ډیر پهٔ زړه پورې انداز کښې ما ته ووئیل، زهٔ تاسو ته د اسلام قبلولو خواست کووم، زه د **احترامِ مسلم** رسالې لوستلو سره د مخکښې نه پهٔ زړه کښې پهٔ اسلام مئین شوے ووم، د هغه د محبت نه ډک انداز مې پهٔ زړهٔ باندې نور اثر هم وکړو او **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** ما کلمه ووئیله او مسلمان شوم. [1]

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کردیا دیکھو | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کردیا دیکھو

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د کفن دفن ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د ټیکنالوجۍ دور دے، **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ پهٔ ذریعه هم د عِلمِ دین عام کولو کوشش کوي. دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې یو موبائل ایپلي کیشن دے: ***Muslim's Funeral*** (کَفَن دَفَن). پهٔ دې موبائل ایپلي کیشن کښې د مَړي د غُسل او کفن دفن وغیره پهٔ باره کښې ډیر اهم معلومات ورکړے شوي دي او یوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوې، کَفَن به ورته څنګه اچوې، د دې د عملي طریقې

[1] ...غافل درزی، صفحہ:25۔

د پاره ***Animated Videos*** [متحرک ويډيوګانې] هم شامِلې دي. تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د څينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

ہر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د وعدې پابندي كول سُنَّت دي

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2** فرامين مبارک دي: **(1)**: څوک چې وعده نه پوره کوي، د هغهٔ هيڅ ايمان نشته.[3] **(2)**: کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي وکړي په هغهٔ باندې د **الله** پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے.[4]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبيا دي ✿ زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپله وعده کلک ولاړ وو او

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:115۔
3... مصنف ابنِ ابی شیبہ، کتاب: الایمان، جلد:7 صفحہ:223۔
4...بخاری، کتاب: جزیہ، صفحہ:815، حدیث:3179۔

❀وعده ماتول به يـې نه خوښول ❀ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودريږئ! زه دا دے اوس راځم، هغهٔ کَس لاړو خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغهٔ ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هُغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پهٔ هغهٔ ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَالله! شفقت او رَحمت او ښو اخلاقو ته يـې وګورئ! چې هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم هغهٔ کَس اونه رټلو، نه ورته غصه شولو، بس دومره يـې ووفرمائيل: اے سړيه! تا زه پهٔ مشقت کښې واچولم. [1] الله پاک دې مونږ هم پهٔ سُنّتِ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُالْمَدِينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصّه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ د 91 صفحو رساله 550 **سنّتيں اور آداب** واخلئ او ويـې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَـدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| علم حاصل کرو، جَہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں، قافلے میں چلو |
| سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم.

---

1...اَبُوداوٗد، کتاب ادب، باب في العدة، صفحه: 781، حديث: 4996۔



www.dawateislami.net

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا



www.dawateislami.net

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵



www.dawateislami.net